# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۹ د مرغومې ۳۰مه | د ۲۰۲۱ د جنوري ۱۹مه | ٦٦٦مه گڼه


## پر کابل وحشت او د سولې ټکنی بهیر؛

### طالبانو او افغان حکومت د بندیانو پر اعدام او معافیت نانډرۍ پیل کړې دي





### په جمهوریت کې بې اهمیته شوې مقننه قوه

۲ مخ

### افغانستان؛ د سرې جګړې قرباني

۲ مخ


### د چین او افغانستان تر منځ دوستي اوږد تاریخ لري

۳ مخ

## ځېره

۴ مخ

### ایمره کرتیز



«بې سرنوشته» د کرتیز مشهور ناول دی او هغه د داسې یوه زلمي کیسه ده، چې د راتلونکې په اړه یې وړاندوینه نه شي کولی، سر تر سره له خطرونو او جنجالونو سره مخ دی، خو دی باید د هرې وېرې او هر ظلم پر وړاندې مبارزه وکړي.

### بینا: روان کال له کندهاره د اتو میلیونو ډالرو په ارزښت انار بهر ته صادر شوي



روان کال د کندهار له باغونو شاوخوا ۲۰۰ زره ټنه انار تر لاسه شوي، چې د اته میلیونه ډالرو په ارزښت ۳۵ زره ټنه یې بهر ته صادر شوي دي.

د کندهار د سوداګرۍ خونې مرستیال انجنیر عبدالباقي بینا وایي، روان کال که څه هم د انارو حاصلات ډېر وو، خو د طبیعي افاتو له امله یې ډېره برخه چاودېدلي وو.

دغه راز د کال په پیل کې د کرونا وبا خپره شوه چې له امله یې درې او څلور میاشتې لارې تړلې وې، خو د نوموړي په خبره، پر دې سربېره، سږ کال د کندهار له باغونو ۲۰۰ زره ټنه انار تر لاسه شوي دي.

بینا وایي، له دې جملې د ۸ میلیونه ډالرو په ارزښت ۳۵ زره ټنه انار بهر ته صادر شول چې ډېره برخه یې پاکستان او هندوستان او لږه برخه یې متحده عربي اماراتو او یو شمېر اروپایي هېوادونو ته تللي دي.

### رحماني: ملګري ملتونه دې د جګړې د پای ته رسولو لپاره هر اړخیزې هڅې وکړي

ولسي جرګې د ملګرو ملتونو له نړیوال سازمان وغوښتل، چې په افغانستان کې د روانې جګړې د پای ته رسولو لپاره هر اړخیزه هڅه وکړي.

د ولسي جرګې مشر میر رحمان رحماني د پرونۍ غونډې په امتیازي ساعت کې د خبرو پر مهال وویل، چې ملګرو ملتونو تل په افغانستان کې د جګړو د پای ته رسولو او د بشري فعالیتونو په برخه کې همکاري کړې او اوس د دې وخت دی چې د سولې په روان او مهم بهیر کې هم همکاري وکړي.

د رحماني په خبره، په هېواد کې جګړې خونړۍ شوې دي، ملکي تلفات لوړ شوي دي، د سولې بهیر مبهم دی او ولس ته ګنې اندېښنې پیدا شوې دي. هغه وایي، ملګري ملتونه باید په دې بهیر کې همکاري وکړي او په دې توګه دې افغانستان د ګاونډیانو له مداخلې وژغوري او د هغو خلکو مخنیوی دې وکړي چې په افغانستان کې د خپلو ګټو جګړه مخ ته وړي.

ولسي جرګې یو ځل بیا پر طالبانو غږ وکړ چې د سولې له بهیر سره یو ځای شي او په دې توګه دلته روانې خونړۍ جګړې ته د پای ټکی کېږدي. د ولسي جرګې مشر دا څرګندونې داسې مهال کوي چې په دې وروستیو کې د سولې له خبرو سره هممهاله جګړه شدیده شوې، چې هره ورځ پر ښکېلو غاړو سربېره، ملکیانو ته هم پکې مرګ ژوبله اوړي.

### وکیلان: که د ۱۴۰۰ مالي کال د بودجې سند اصلاح نه شي، بیا به یې هم ردوو



۲ مخ

### شورای مصالحه ملی: حامد کرزی در دیدار با عبدالله بر کاهش فوری خشونت‌ها در کشور تأکید ورزید



داکترعبدالله عبدالله رئیس شورای عالی مصالحهٔ ملی، در دیدار با حامد کرزی رئیس جمهور پیشین، بر کاهش فوری خشونت ها در کشور تاکید ورزید.

در خبرنامهٔ مطبوعاتی دفتر شورای عالی مصالحه ملی آمده است که داکتر عبدالله عبدالله رئیس شورای عالی مصالحه ملی، با حامدکرزی رئیس جمهور پیشین، در دفتر کارش در قصر سپیدار ملاقات کرد.

منبع افزوده است که هر دو جانب، دراین دیدار دربارهٔ دور دوم مذاکرات دوحه، آخرین پیشرفت‌ها در گفتگوهای صلح و تقویت اجماع ملی و بین‌المللی در حمایت از روند صلح، بحث و تبادل نظر کردند. همچنان آنها بر کاهش فوری خشونت‌ها در کشور تأکید ورزیده اند.

این در حالی است که تیم مذاکره کننده دولت جمهوری اسلامی افغانستان، پس از یک وقفه سه هفته ای، در شانزدهم جدی سال روان، جهت آغاز مرحله دوم مذاکرات وارد قطر گردیدند.

با آنکه در۱۲ روز گذشته، هیچ نشست رسمی میان تیم های مذاکره کنندهٔ دولت و طالبان صورت نگرفته؛ اما برخی منابع در قطر گفته اند که شام یکشنبی، جلسه ای میان رؤسا و اعضای تیم های مذاکره کننده دولت و طالبان، در قطر برگزار گردید و بیشتر روی اجندای مذاکرات بعدی بحث شد.


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

سرليکنه

## په جمهوريت کې بې اهميته شوې مقننه قوه

د ولسي جرگې غړي د سرپرست وزيرانو پر کړنو نيوکه کوي او وايي چې د دوی کار د قانون خلاف دی او پکار ده چې مخه يې ونيول شي. د ولسي جرگې رييس مير رحمان رحماني پرون پر ولسمشر غني غږ وکړ چې سرپرستي ختمه کړي او د هغو وزارتونو لپاره نوي کانديدان ور وپېژني، چې ولسي جرگې رد کړي دي. ولسي جرگې څه وخت وړاندې د افغانستان بانک د کانديد په گډون د ځينو وزارتونو لپاره کانديدان رد کړل او له ولسشمر يې وغوښتل چې نوي کسان ور وپېژني، خو تر اوسه نه يوازې نوي کسان معرفي شوي نه دي، بلکې سرپرستان همغسې خپل کار ته دوام ورکوي.

اوس چې د سولې پروسه روانه او ورسره د نظام د تغيير بحث هم شته، ولسمشر غني او ملگري يې په شدت سره پر جمهوريت ټينگار کوي او دا خپله سره کرښه گڼي. ولسمشر په خپله نږدې هره وينا کې جمهوريت يادوي او حکومت د دې لپاره په ولايتونو کې پراخ پروگرامونه هم پيل کړي دي. پر ولسمشر غني او ملگرو يې تور دی چې د سولې مخالفت کوي او د جمهوريت په گډون نور ارزښتونه يوازې د خنډ جوړولو لپاره کاروي. د حکومت سياسي مخالفين د دې لپاره ډېر دلايل راوړي، چې يو يې همدا دی چې ولسمشر خپله د جمهوريت پر ستوني پل اېښی دی او وژني يې، نو څنگه له نورو غواړو چې جمهوريت ومني!؟

د ولسمشر لخوا د جمهوريت خلاف قصدي او شعوري کړنې ډېرې دي، خو په جمهوريت کې يو اصل د قواوو تفکيک دی، چې اوس ولسمشر غني له منځه وړی دی او ځان يې پر يو مطلقه پاچا بدل کړی دی. کله چې ولسي جرگه د قانون پر اساس پرېکړه کوي او ولسمشر يې نه مني، کله چې ولسي جرگه کانديد وزيران ردوي، خو ولسمشر يې د قانون خلاف سرپرستان ساتي، کله چې ولسي جرگه ځينو وزيرانو ته د باور رايه نه ورکوي او د ولسمشر مېرمن راځي او وايي چې د ولسي جرگې پرېکړه اهميت نه لري او سرپرستان به کار ته دوام ورکوي، دا خپله د ولسي جرگې بې اهميته کول دي. دا بيا د قواوو د تفکيک د اصل خلاف چاره ده او په دې سره جمهوريت نقض کېږي. ولسمشر يوازې د ولسي جرگې يوه پرېکړه نه ده رد کړې، بلکې ډېرې پرېکړې يې رد کړې دي او ان ولسي جرگه يې دومره بې ارزښته کړې ده چې اوس يې خپل اهميت هم له لاسه ورکړی. له ولسي جرگې سره د حکومت دا چلند د دې سبب هم شوی چې د جرگې ځينې پرېکړې هم پر حکومت د فشار لپاره وشي او په دې ډول د اشرف غني تر واکمنۍ لاندې جمهوريت يو داخلي ټکر ته تللی دی. يا خو به سوله کېږي او جمهوريت به هم ورسره د سولې قرباني کېږي، خو که ولسمشر پر جمهوريت ټينگار کوي، نو لومړنۍ چاره دا ده چې خپله جمهوريت ومني؛ مقننه قوې ته درناوی وکړي، قانوني پرېکړې يې عملي کړي او قضايه قوه هم پرېږدي چې خپلواک عمل وکړي. له دې پرته څوک چې خپله جمهوريت زندی کوي، څنگه به له نورو د جمهوريت دفاع وکړي او پرې وبه يې مني؟؟

# افغانستان؛
## د سړې جگړې قرباني

▶ ليکنه: محمد يوسف صابر ساپی

**دويمه برخه:**

د ترهگرو په نامه دا د (ژان وال ژان) په څير فقيرو پښتنو بېلول او ځپل له هر ډول انصاف څخه لرې چاره ده، لکه د سړې جگړې په لړ کې د خوار افغانستان اشغال، چې هيڅ ډول انساني توجيه نه لري، ځکه نو پر شوروي باندې د نړۍ د ولسونو قهر او الهي غضب هم نازل شو. پر پاکستان او امريکا به هم همداسې قهر او غضب راځي.

بيرته د سړې جگړې وخت ته راگرځو. له لوېديځ سره په دښمنۍ کې شوروي اتحاد هم په ۱۹۴۹ کال کې اتومي بم وازمويل شو. په دې وخت په چين کې هم د «ما ووتسه دون» په مشرۍ کمونيستانو واک تر لاسه کړ. په همدې انگيزې د امريکا متحده ايالاتو د کمونېزم د مخنيوي سياست نور هم جدي ونيو. متحده ايالاتو د چين نوی حکومت په رسميت ونه پيژانده او په ملگرو ملتونو کې يې د چين ولسي جمهوريت غړيتوب تر ډېره نه مانه او د هغه په مقابل قطب کې يې د جاپان له پرمختگ څخه ملاتړ کاوه.

د سړې جگړې په لړ کې د ختيځ او لوېديځ دښمنۍ ورځ په ورځ مخ په زياتيدو وې. په افغانستان کې د نيابتي جگړې د پيل له مخه د زبرځواکونو تر منځ ډيرې نورې خونړۍ نيابتي جگړې شوې وې. زموږ ولس او سياستوال د فيل په غوږو کې ويده وو.

نيابتي جگړې؛ هغو جگړو ته ويل کيږې چې زبرځواکونه د اتومي او ټول وژنې نورو وسلو په موجوديت کې له يو بل سره له مخامخ ټکر څخه ځانونه ساتي؛ خو په دربيمو هيوادونو کې د دوی په نيابت د دوی په وسايلو او د دوی د موخو لپاره سيمه ييزې وسله والې ډلې جگړې پر مخ بيايي.

د کوريا هيره شوې جگړه؛ د زبرځواکونو لومړنۍ نيابتي جگړه په ۱۹۵۰ کال کې د سړې جگړې لمن په شمال- ختيځه اسيا کې کوريا ته ورسيده. د نړيوالې جگړې دواړو زبر ځواکونو د جاپان له تسليمۍ وروسته کوريا په دوو برخو وويشله. ډېر وخت تير نه شو چې د شمالي کوريا او سويلي کوريا تر منځ يو د بل خاورې نيولو پر سر جگړه ونښته. دا جگړه نه يوازې د دواړو کورياوو تر منځ وه، بلکې متحده ايالاتو پکې مخامخ او چين او شوروي پکې غيرمستقيم گډون درلود. له دريو کلونو خونړيو جگړو وروسته د ډېرو نښتو، بايلود او له کوم ارزښتناک بري پرته، دواړو خواوو اوربند ته چې تر ننه پورې دوام لري، غاړه کېښوده.

د جگړې په اوږدو کې کيمياوي او بيولوژيکي وسلې استعمال شوې، ډېرې ډله ييزې وژنې وشوې. دې جگړې، اټکلي څلور- پنځه ميليونه انساني تلفات لرل.

د ۱۹۵۰ -۱۹۵۳مو کلونو د کوريا هيره شوې جگړه په حقه د ناپيژندلې جگړې د نوم وړ ده. له دې هيڅ انکار نشي کيدلی چې امريکا شمالي کوريا په بې رحمانه بمبارۍ سره ورانه کړه، اور اچوونکي بمونه (د بې شمېره ناپالم بمونو په شمول) يې استعمال کړل، د اتومي وسلو گواښ هم و؛ خو له دغو حقيقتونو څخه عام خلک خو څه کوې ان تاريخ پوهان هم نه دي خبر. له سړې جگړې څخه راپاتې د کوريا ټپ لکه د پښتنو په سينه د ډيورنډ ناسور، لا تر اوسه تازه پروت دی.

د کوريا جگړه د زبرځواکونود نيابتي جگړو د تاريخ يوه دردوونکې پاڼه ده او دا خونړۍ جگړه د سړې جگړې يوازينۍ توده جگړه نه وه .

په ختيځ المان کې د شوروي پوځي مداخله؛ د ۱۹۵۳ کال د مارچ په پنځمه ستالين مړ شو. له دې سره په شوروي کې د ستاليني شيوې د له منځه تللو امکانات پيدا شول. د شوروي نوي مشر خروسچوف د اتومي وضعيت او دننيو ستونزو په نظر کې نيولو سره په سوله کې د گډ ژوند او د ستونزو د سوله ييز حل لاره غوره کړه. دغه لنډه دوره د ۱۹۵۳ کال د جون په اوولسمه د المان په ډيموکراتيک جمهوريت کې د خلکو له پاڅون سره پای ته ورسيده. په ختيځ المان کې د زياتو پوځي لگښتونو په نتيجه کې اقتصادي بحران منځته راغی او ورسره د خلکو ژوند ورځ په ورځ خرابيده. کارگران د خپل ژوند د شرايطو د خرابي په مخالفت کې پاڅيدل. دغه مخالفتونه ژر په دولتي ضد او شوروي ضد سياسي اعتصابونو بدل شول.

له دې سره شوروي اتحاد پوځي مداخله وکړه او اعتصابونه يې وځپل. لوېديځو هيوادونو د شوروي پوځي مداخله يوازې وغندله. شوروي اتحاد په دې وخت کې د وسلو په سياليو کې د هايدروجني بمونو او لرې واټن الوتکو په لرلو له متحده ايالتونو سره يو برابر و. له دې سره د گواښ له نظره، يو توازن منځته راغلی و. همدغه وضعيت د سترو ځواکونو اړيکې ټاکلې او د وسلو سيالۍ يې نوره هم زياتوله. وروسته له دې امريکا په لوېديځه اروپا کې د اتحادي المان په گډون، هستوي او لنډ واټن توغندي نصب کړل.

په ۱۹۵۵ کال کې شوروي اتحاد او د هغه متحدينو د وارسا پوځي تړون جوړ کړ.

په هنگري کې د شوروي پوځي مداخله؛ په ۱۹۵۶کال په هنگري کې ځينو روښانفکرانو د شوروي پوځي موجوديت پر ضد پاڅېدل، سړکونو ته راووتل، د راډيو له لارې يې د هيواد ټول خلک لاريون ته راوبلل، ژر يې له شوروي اتحاد څخه د ازادۍ او د خپلواکو ټولټاکنو اعلان وکړ او پرته له ځنډه يې خپل کس (امرنا گي) د لومړي وزير په توگه وټاکه. نوموړي سمدلاسه له وارسا پکت څخه د هنگري د وتلو پرېکړه وکړه.

له دې سره شوروي پوځي ټولگيو پر هنگري باندې بريد وکړ، پاڅون يې وټکاوه او په دې اخ او ډب کې ډېر انسانان ووژل شول. د لوېديځ لخوا هغه مرسته چې د ازادې راډيو لخوا ويل کيدله، ونه رسيدله. په دې وخت کې لوېديځ ځواکونه د سويس کانال په مسئله کې بوخت وو. دا هغه وخت و، چې د مصر نوي ولسمشر جمال عبدالناصر د سويس کانال ملي اعلان کړی و او له دې سره فرانسې، برېتانيا او اسراييلو يوځای پر مصر باندې پوځونه ورمارش کړي وو.

د کيوبا بحران؛ نړۍ د اتومي ټکر په درشل کې: په کيوبا کې د ۱۹۵۹ کال په لومړيو کې د فيدل کاسترو په مشرۍ انقلابي واکمني رامنځته شوه او سوسياليستي لاره يې غوره کړه. متحده ايالاتو چې مرکزي امريکا يې آن له اتلسمې پيړۍ راهيسې د خپل انگړ په توگه گڼله، پر کيوبا باندې اقتصادي بنديزونه ولگول او د نوې واکمنۍ راپرځولو لپاره يې ځينې پټ عمليات سرته ورسول. امريکايي تخريبي فعاليتونو کوم خاص بری نه درلود؛ خو له دې سره په ۱۹۶۲ کال کې د سترو ځواکونو تقابل هلته يو بحراني حالت غوره کړ او ورسره ټوله نړۍ د يوې نوې جهاني جگړې په درشل کې ودرېده. وروسته له هغې چې متحده ايالاتو په ترکيه کې د (جوپټر) او (تور) منځني واټن توغندي ځای پر ځای کړل، شوروي اتحاد په کيوبا کې اتومي توغندي نصب کړل. له دې سره د متحده ايالاتو سمندري ځواکونو د ولسمشر جون کيندي په امر شوروي بېړۍ چې کيوبا ته روانې وې، کلابندې کړې. وضعه تر دې حده وخيمه شوه چې شوروي بېړيو بيرته مخونه راوگرځول او دا وخت اتومي ټکر ته ډېر څه نه وو پاتې. په دې وخت کې د امريکا د ولسمشر ورور روبرت کيندي د پټ ډيپلوماتيک تماس په ترځ کې د شوروي له مشر خروسچف څخه وغوښتل، څو په کيوبا کې د اتومي توغنديو له نصب څخه صرف‌نظر وکړي او متحده ايالات به له ترکيې څخه خپل توغندي راوباسي. په دې موافقې سره د اتومي ټکر مخه ونيول شوه.

د برژنف دوکترين؛ د شوروي اتحاد ولسمشر ليونيد برژنف په ۱۹۶۸ کال کې د پولينډ د متحد کارگري گوند په کنگره کې په خپلې نظريې داسې ټينگار وکړ: «هر سوسياليستي دولت د خپل هيواد ملي ځانگړتياوو په نظر کې نيولو سره سم، ځانته د سوسياليزم د جوړښت او ودې ځانگړی شکل غوره کوي، اما د سوسياليستي جوړښت عامې قانونمندۍ وجود لري، چې له هغو څخه سرغړونه له سوسياليزم څخه د سرغړونې موجب کيدی شي. کله چې د سوسياليزم دننني او باندني دښمنان وغواړي د يو سوسياليستي هيواد د پرمختگ سوسياليستي لورى د سرمايه‌دارۍ نظام د بيا راژوندي کولو په غرض وگرځوي، کله چې د ټاکلي هيواد سوسياليزم ته گواښ پيدا کيږي، ټولې سوسياليستي وروروليۍ ته گواښ پيښوي. په دې صورت کې دا يوازې د دې هيواد ستونزه نه، بلکې د ټولو سوسياليستي هيوادونو ستونزه ده.

د برژنف همدغه نظر چې د شوروي اتحاد د اويايمو او اتيايمو ميلادي کلونو د بهرني سياست بنسټ جوړاوه، د لوېديځو سياست پوهانو لخوا د برژنف دوکترينو په نامه ياد شوی دی. افغانستان ته د شوروي پوځي ټولگيو استونه هم د همدغو دکترينو په بنسټ شوې وه. هغه وخت د افغانستان دولت هم د سوسياليستي سمت غوره کوونکو دولتونو په کتار کې گڼل کيده.

له ۱۹۶۳ کال راهيسې د دواړو قطبونو تر منځ نسبتاً د سولې فضا رامنځته شوې وه. شوروي اتحاد «په سوله کې د گډ ژوند» پرنسيب تعقيباوه. لوېديځو دولتونو بيا د ټولو هيوادونو ترمنځ نژدې اړيکې غوښتې او داسې يې گڼله، چې د لوېديځو ټولنو پرمختيا نور هيوادونه ځانته راجلبوي. اما د سولې رامنځته شوې فضا ډېر دوام نه درلود.

په چکسلواکيا کې د وارسا پوځي مداخله؛ په ۱۹۶۸ کال کې د چکسلواکيا کمونيست گوند ځينې ريفورم غوښتونکو د الکساندر ديوبچک په مشرۍ د ټولنې ډيموکراتيکه کولو لپاره ځينې ريفورمونه (د سانسور له منځه وړل، د بيان ازادي او اقتصادي اصلاحات) طرحه کړل. خو دغه «چکسلواکي سپرلی» ډېر لنډ و. نوموړي اصلاحات د شوروي مشرانو په نظر انقلابي ضد ريفورمونه وو. له دې سره يې د وارسا نيم ميليون پوځيان په پراگ ورمارش کړل او دغه ريفورمي اقدامات يې وټکول. په دغو سترو پوځي عملياتو کی ۹۸ تنه چکسلواکيان او ۵۰ تنه د وارسا پکت پوځيان مړه شول.

د نيم ميليون پوځيانو يرغل د خونړي سيلاب په څير وي، هر څه لاندې کوي. د يو روسي افسر له خولې: د پراگ په عملياتو کې يوې چکې ميرمنې د دې لپاره چې د پوځونو د وړاندې تگ مخه ونيسي، خپل طفل يې د سړک په سر د ټانک مخې ته واچاوه. له دې سره ټانکست سرتيري برک وواهه او ودرېد. د ټانک قوماندان ټانکست ته امر وکړ چې حرکت ته ادامه ورکړي، ټانکست ټکنی کيږي چې څنگه د ماشوم په سر وړاندې لاړ شي، قوماندان يې په سر تفنگچه ايږدي او امر کوي، چې وړاندې لاړ شي. ټانک خپل وړاندې تگ ته ادامه ورکوي. د دندې له اجرا وروسته کله چې ځوان ټانکست بهر راوځي، ټول گوري چې د سر ويښتان يې ټول تک سپين شوي دي. داسې ساده واقعيتونه د پيښو وحشت ډېر ښه بيانوي.

شوروي پوځيانو د ختيځې اروپا د خلکو مقاومتونه په ظالمانه زور ماتولي شوی، خو په افغانستان کې يې هم په همدغه منطق د مقاومتونو د ماتولو لپاره له هر څومره زور څخه چې يې کار اخيست، مقاومت نور هم پياوړی کيده. يو روسي افسر اقرار کوي: دا چک نه دی! لوېديځو دولتونو لکه د نورو پلاوو په څير په چکسلواکيا کې د وارسا مداخله وغندله، خو عملي کوم غبرگون يې ونښود. سترو ځواکونو د اتومي گواښ په موجوديت کې په دې ډول يو له بل سره له مخامخ ټکر څخه ځانونه ساتل، خو په دربيمو هيوادونوکې د دوی دښمنۍ شدت ته رسيدلې .

د ويتنام خونړۍ جگړه؛ له ۱۹۵۵ څخه تر ۱۹۷۵مو کلونو پورې په ويتنا م کې جگړه روانه وه. دا جگړې د ويتنام جگړې يا د هند او چين د دويمې جگړې په نامه يادېږي. نوموړې جگړې د سترو ځواکونو د غير مستقيمې ونډې له کبله د سړې جگړې په بهير کې د نيابتي جگړو په شمېر کې راځي.

دا جگړه په ۱۹۵۵ کال د ويتنام له ويش وروسته په سويلي ويتنام کې د دننۍ جگړې په څير پيل شوه. ويټ مين او ويټ کانگ (د سويلي ويتنام د ازادۍ ملي جبهه) د سويلي ويتنام د حکومت او د هغه ملاتړ کوونکي امريکايي پوځ په مقابل کې په گوريلايي جگړو سره جنگيدل. شمالي ويتنام بيا د (ويټ کانگ) مرسته او ملاتړ کاوه. جگړه خورا ظالمانه وه. له دې سره د امريکايي پوځ لخوا په (مای لای) کې د ټولوژنو، د امريکايي عسکرو د جنگي جنايتونو، په جگړو کې د امريکايي پوځ لخوا د ژنيو له کنونسيون څخه خلاف کړنې، په جگړو کې د کيمياوي وسلو (Agent Orange) او اورلگوونکي ناپالم بمونو د استعمالولو خبرونه د امريکا او نړۍ په رسنيو کې خپاره شول. د دې خبرونو له خپريدو سره دننه په امريکا کې عامه افکار د جگړې په خلاف وپاړېدل، جگړه يې ظالمانه او بايللې وگڼله. په پای کې امريکا د عامه ذهنيت تر فشار لاندې او په جگړو کې د زياتو تلفاتو له کبله له ويتنام څخه ناکامه ووته.

وروسته بيا د شمالي ويتنام قطعاتو د ۱۹۷۵ کال تر مې پورې ټول سويلي ويتنام فتح کړ او له دې سره د ويتنام جگړه پای ته ورسيده. په دې جگړه کې ويتناميانو ۲.۴ ميليونه ملکي تلفات لرل او ۱.۳ ميليونه پوځيان يې له لاسه ورکړل. د امريکايانو تلفات ۵۸۲۲۰ کسه امريکايي عسکر او ۵۲۶۴ کسه يې د متحدينو عسکر وو. د ويتنام د جگړې درسونه افغان ولس او په ځانگړې توگه افغاني ښې او کيڼ اړخه سياستوالو لپاره له عبرت څخه ډک وو. د هغو په پام کې ساتلو سره کيدای شو هيواد د نيابتي جگړې په ډگر بدل شوی نه وای.

په دې توگه زبرځواکونو په دربيمه درجه هيوادونو کې نيابتي جگړې رامنځته کولې او خپل استعماري اهداف يې تعقيبول. د سړې جگړې اصلي محرک که د شوروي توسعه طلبي وي که د امريکا متحده ايالاتو او که دې د واړو، د دربيمې نړۍ هيوادونو په ميليونو خلک د افغانانو په شمول، د همدغو توسعه طلبيو قرباني شول. سړې جگړې انساني ضد، استعماري ماهيت درلود. په دغه تاريخي پړاو کې سړې جگړې د نړيوالې وضعې اصلي مضمون جوړاوه.

د نړۍ په دې اړخ يانې زموږ په سيمه کې هم د انگريزي هند او تزاري روسيې تر منځ د دوو پيړيو استعماري سياليو ځای (چې د سترې لوبې په نامه ياده شوې ده) هم د لوېديځ او ختيځ دښمنيو يانې سړې جگړې نيولی و.

**دوام لري...**

# د چین او افغانستان تر منځ دوستي اوږد تاریخ لري

لیکنه: سپوږمۍ
د چین میډیا گروپ د پښتو څانگې خبریاله

په معاصره موده کې د چین او افغانستان تر منځ سیاسي اړیکې د ۱۹۵۵ کال د جنورۍ په ۲۰مه رسماً ټینگې شوې دي. دواړه هېوادونه له تېرو ٦٦ کلونو راهیسې د بېلابېلو ستونزو په لرې کولو توانیدلي او خپلمنځي اړیکې یې اوس تر ډېره د عادي پرمختگ په حال کې دي. تاریخي سندونو ته په کتو سره د چین او افغانستان تر منځ تگ راتگ د چین له شي هان سلسلې څخه پیل شوی، چې تر اوسه پورې پرې څه باندې ۲۰۰۰ کالونه تېر شوي دي.

د قبل المیلاد په ۱۳۹ کال کې د چین د شي هان سلسلې پاچا "لیو چه" له نورو هېوادونو سره د دوستانه اړیکو په ترڅ کې "جانگ چیان" د خپل استازي په توگه وټاکه، چې د یو پلاوي په مشرۍ سره لوېدیځې سیمې ته د یو مهم ډیپلوماتیک سفر لپاره لاړ شي. د چین د یو مشهور تاریخي کتاب "د تاریخ پوهانو ریکارډ" له مخې، د چین دغه ډیپلوماتیک پلاوی د څه پاسه لسو کلونو په مودې سره د اوسني افغانستان، شمالي لرغوني ولایت بلخ ته ورسېدل، هلته کابو یو کال پاتې شول او د بلخ له لرغوني ښار څخه یې هم لیدنه کړې ده. دا د چین په تاریخي کتابونو کې د دغو دواړو هېوادونو تر منځ د تگ راتگ په اړه تر ټولو پخوانی یو تاریخي ریکارډ دی.

موږ ټولو ته اشنا نوم په هماغه شاوخوا موده کې د ورېښمو لرغونې لاره ده، چې په هماغه وخت کې رامنځته شوې ده. دغه مشهوره او لرغونې لاره نه یوازې د ختیځې او لوېدیځې نړۍ تر منځ د مالونو د لېږد رالېږد مهمه لاره پاتې شوې ده؛ بلکې د رنگا رنگ کلتورونو تر منځ د تبادلې او یو بل ته د معلوماتو او دودونو د خپرېدو اغېزمن دهلیز هم و.

د کابل، بلخ، کندهار او هرات په گډون، دغسې لوی ښارونه په هغه تاریخي موده کې د ورېښمو د لرغونې لارې په اوږدو کې ډېر نامتو سوداگریز مرکزونه وو چې د مختلفو هېوادونو سوداگر پکې راغونډېدل. بې شمېره مالونه د یادو ښارونو له لارې جنوبي او لوېدیځې اسیا حتی اروپا ته لېږدول کېدل. اوس د چین په مختلفو بازارونو کې رومي بانجان، تور مرچ، گازرې، انگور، بادرنگ او انار ډېر لیدل کېږي، خو داسې سنتي مېوې ښایي د ورېښمو د لرغونې لارې په موده کې د افغانستان له لارې چین ته رسېدلې وي. دغه راز د چین غوره ورېښم، چای او ځینې نور پرمختللي صنعتونه هم له دې لارې افغانستان او نورو سیمو ته رسېدلي او مروج شوي دي.

د دې تر څنگ بودایي دین هم له هند څخه د افغانستان لارې په چین کې خپور شوی دی. د قبل المیلاد په دویم کال کې د اوسني افغانستان په شمال کې د یو ملک راهب چې د چین په تاریخي کتاب کې د "یي څون" په نوم یاد شوی دی، د بودایي کتابونو په راوړلو سره چین ته راغلی. بیا د میلاد په ٦٥م کال کې د چیني حکومت استازو له افغانستان څخه ډېرې بودایي کتابونه او یو هندي راهب راوستی. نن ورځ د چین په منځنۍ برخه کې د هه نان ولایت په لو یانگ ښار کې د بای ما معبد د یادو بودایي کتابونو د ژباړلو په ترڅ کې په ٦٨م میلادي کال کې جوړ شوی او تر اوسه ډېر ښه ساتل شوی دی. بیا وروسته له افغانستان څخه څو ستر راهبان د بودایي دین د تبلیغ او خپرولو لپاره په وار سره چین ته راغلي او څو چینایان هم د بودایي کتابونو د راوړلو لپاره د افغانستان له لارې هند ته تللي. په ۵مه میلادي پېړۍ کې چیني راهب "فاشیان" په هند کې د ډېرو بودایي کتابونو په تر لاسته کولو سره د جلال اباد له لارې بېرته چین ته راستون شوی دی. د بودایانو وطن ته د سفر په نوم سفرنامه کې چې د "فاشیان" لخوا لیکل شوې، په جلال اباد کې د څو بودایي سټوپو او معبدونو ښې تصویر شوې دي. په ۷مه میلادي پېړۍ کې د چین لوی راهب "شیوان څانگ" هند ته د تگ په لار کې هم د افغانستان څو ځایونو ته سفرونه کړي دي. په هغه کتاب کې چې د "شیوان څانگ" او زده کوونکو لخوا یې په گډه لیکل شوی، په بامیان کې د دوو لویو ډېرینو بودایي مجسمو یادونه هم شوې ده. دغه کتاب لا تر اوسه هم د چیني او بهرنیو کارپوهانو ډېر د استفادې وړ دی.

له څه باندې ۲۰۰۰ کالونو راهیسې د چین او افغانستان تر منځ رسمي تگ راتگ که څه هم دومره زیات نه و، خو هېڅکله نه دی بند شوی دی. د تانگ سلسلې په موده کې(د میلاد له ٦١٨ نه تر ۹۰۷ کال پورې) د چین هغه وخت مرکزي حکومت د اوسني افغانستان په څو ځایونو کې خپلې نمایندہ گۍ جوړې کړې او د دغو ځایونو امنیت یې ساتلی دی. د مینگ سلسلې په موده کې (۱۳٦۸-۱٦۴۴) تیموریانو څو ځلې چین ته لوړ پوړي ډیپلوماتیک پلاوي رالېږلي او ور سره یې دوستانه اړیکې ټینگې کړې دي. د چین هغه وخت لوړ پوړي چارواکي "چن چنگ" هم پنځه ځلې د پلاویو په مشرۍ سره د تیموریانو دربار ته سفرونه کړي دي. د یادونې وړ ده چې په ۱۴۱۹ کال کې د تیموریانو دورې پاچا شاهرخ میرزا یو ۵۰۰ کسیزه پلاوی چین ته لېږلی دی، چې په بېجینگ کې د پنځو میاشتو لپاره پاتې شوی دی. په دغه پلاوي کې ځانگړي کارکوونکي وو چې د چین هغه وخت د سیاست، اقتصاد، کلتور او دودونو په اړه یې معلومات ثبت کړي. د تیموریانو دورې افغان مشهور تاریخ پوه حفیظ ابرو د داسې معلوماتو په راغونډولو سره یو کتاب جوړ کړ چې په نړۍ کې ډېر مهم تاریخي کتاب بلل کېږي.

په ۱۷۴۷ کال کې افغان امپراطور احمدشاه ابدالي د افغانستان په نوم هېواد جوړ کړ، بیا په ۱۷٦۲ کال کې یې چین ته خپل څو کسیز استازی ولېږه. د تاریخي سندونو له مخې، د چین د چینگ سلسلې هغه وخت پاچا دې ته په درنه سترگه وکتل او امر یې وکړ چې افغانستان یو ډېر لوی ملک دی او استازی یې د لومړي ځل لپاره چین ته راغلی. نو موږ باید تر خپلې وسې پورې بېلابېل ځایونه دوی ته وښیو. هر چېرې چې دوی سفر کوي، د دوی په ویاړ دې درانه مراسم او مېلمستیاوې چمتو او جوړې شي.

له ۱۹مې پېړۍ د ۲۰مې پېړۍ تر پیل پورې د چین د شینجیانگ او افغانستان تر منځ انساني تگ راتگ ډېر فعال شوی او ډېرې افغانان د واخان دهلیز له لارې شینجیانگ ته کډه شوي دي. د ۱۹۴۴ کال د مارچ په دویمه د چین هغه وخت مرکزي حکومت هم له افغانستان سره د دوستۍ تړون لاسلیک کړی و.

# پر کابل وحشت او د سولې ټکنی بهیر؛

## طالبانو او افغان حکومت د بندیانو پر اعدام او معافیت نانددرۍ پیل کړې دي





په کابل او ولایتونو کې د نا امنیو له اوج سره هممهاله، د افغان حکومت لوړپوړي چارواکي د طالبانو او نورو ترهگرو ډلو په اړه تازه څرگندونې کوي. د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح د شپږنیمو بجو جلسې په تړاو په یوه خپاره کړې پیغام کې غوښتنه کړې، چې له دې وروسته دې طالب بندیان اعدام کړل شي. بلخوا طالبانو د صالح پر دې څرگندونو غبرگون ښودلی دی. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون هم وایي، چې په هېواد کې هر څوک په خپل زړه د چا په اړه پرېکړه نه شي کولی، بلکې دا د عدلي او قضایي ارگانونو صلاحیت دی.

تر هغه وروسته چې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ په دوحه کې بین الافغاني مذاکرات پیل شول، ورسره جوخت په کابل او ځینو نورو مهمو ښارونو کې هدفي بریدونه او چاودنې هم ډېرې شوې دي. تر څنگ یې طالبانو په گڼو ولسوالیو کې بریدونه کړي او وخت ناوخته خونړۍ جگړې کوي. تېره ورځ په هلمند او غزني کې هدفي بریدونه شوي، په کابل کې د ماین درې چاودنې شوې او ورمه شپه په کابل کې دوه کسه چې یو یې ملکي او بل یې دولتي و، د ناپېژانده کسانو په برید کې وژل شوي دي. ورمه ورځ بیا په کابل ښار کې ناپېژانده وسله والو د ښځینه قاضیانو پر موټر برید وکړ او دوې ښځینه قاضیانې یې ووژلې.

د دې ټولو پېښو په غبرگون تېره ورځ امرالله صالح ویلي، چې دغه ډول بریدونه وسله وال طالبان ترسره کوي، نو د دې وخت دی چې د دغې ډلې بندیان باید اعدام کړل شي. د ده په خبره، د طالبانو په گډون د ټولو هغو ترهگرو ډلو بندیان باید اعدام شي، چې د عامو خلکو په وژنو او هدفي بریدونو کې لاس لري. د ده په خبره: ((د طالبانو بندیان فکر کوي چې دوی ښېل کېږي، دوی د خپلو اعمالو جزا نه ویني. د دې ستونزې د حل اساسي لار دا ده چې ځینې نیول شوي ترهگر باید اعدام شي. دوی باید اعدام شي چې د پاتې نورو لپاره د عبرت درس شي)).

د ولسمشر لومړی مرستیال د امنیتي پېښو د ډېرېدو لامل همدا بولي چې طالبان د معافیت په فکر کې دي او وسله وال یې په پوره زړورتیا په ښارونو کې ورته ترهگریز فعالیتونه ترسره کوي. هغه ورمه ورځ د جنایي جرمونو د ډېرېدو لامل هم دا بللی و چې د کرونا له وېرې حکومت ځینې جنایي بندیان خوشي کړل او دوی اوس په لارو او کوڅو کې په جنایي جرمونو بوخت دي.

د ولسمشر د لومړي مرستیال دې څرگندونو غبرگونونه هم لرلي دي. د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد له رسنیو سره په خبرو کې ویلي چې که افغان حکومت په ورته یوه کار لاس پورې کړي نو دوی هم بدیلې لارې لري. د ده په خبره: ((په داشان کړنو سره به د سولې خبرې له ستونزو سره مخ شي او دوی غواړي خپله ناکامي په دې کارونو سره پټه کړي)).

د افغانستان د بشري حقونو کمېسیون هم وایي چې هر څوک په خپل سر د چا په اړه پرېکړې نه شي کولی. د دغه کمېسیون په خبره، افغانستان قوانین لري، ادارات لري او دوی به د مسایلو په اړه قوانینو ته په کتو پرېکړه کوي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون د نشراتو د برخې مسوول ذبیح الله فرهنگ ویلي، د حکومت اجرایه بنسټونه د لومړي معاونیت په گډون دغه ډول فرمانونه نه شي صادرولی. د ده په خبره: ((د قانون د پلي کېدو مسوولیت او مکلفیت د عدلي او قضایي بنسټونو کار دی، د حکومت اجرایه بنسټونه د لومړي معاونیت په گډون د داشان حکمونو، لکه اعدام مسوولیت نه لري)).

په هېواد کې امنیتي پېښې داسې مهال ډېرېږي، چې په دوحه کې بین الافغاني خبرې رواني دي او د عامو افغانانو په باور د طالب مشرانو او افغان حکومت د چارواکو خبرې په اوسنیو شرایطو کې د سولې له روحیې سره په ټکر کې دي او دواړو لورو ته په کار ده چې د باور په فضا کې د رواني جگړې پر پای هوکړې ته سره ورسېږي.

# د احتمالي بریدونو په تړاو اندېښنې؛

## امریکایي چارواکي: ښایي د پوځ په لیکو کې ځینې کسان د لوړې پر مراسمو بریدونه وکړي

امریکایي چارواکي د منتخب ولسمشر جو بایډن د لوړې د مراسمو پرمهال د پوځ له لیکو د ځینو احتمالي بریدونو په تړاو اندېښمن دي.

د امریکا د متحده ایالتونو امنیتي ادارې د ملي گارډ ټول هغه عسکر څاري، چې په واشنگټن کې د منتخب ولسمشر جوبایډن د لوړې د مراسمو د امنیت خوندیتوب لپاره ځای پر ځای کېږي.

د امریکا منتخب ولسمشر جو بایډن داسې مهال د جنورۍ په ۲۰مه د لوړې مراسم ترسره کوي، چې په دغه هېواد کې د احتمالي بریدونو په تړاو اندېښنې په ډېرېدو دي.

امریکایي چارواکي وایي، چې د ملي گارډ ۲۵ زره غړي د داخلي بریدونو د اندېښنو په سبب واشنگټن ته په رسېدو د فدرال قانون پلي کوونکي اجنسیو له خوا څارل کېږي. د امریکا د دفاع وزارت لوړپوړی ملکي مشر راین مک کارتي وایي، چارواکي د یوه داخلي برید له احتمالي گواښ خبر دي.

مک کارتي د اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس د دې پوښتنې په ځواب کې چې دی څنگه د یوې احتمالي داخلي حملې په اړه اندېښمن دی؟ ویلي: «معلومه نه ده. د جنورۍ په شپږمه اول سر کله چې لاریون پیل او مخ پر کانگرېس ورغی، د ټولو ادارو استازي وو. پوښتنه دلته ده چې ایا دا یې ټول دي؟ نور هم شته که څنگه؟ نو واضح ده چې موږ باید د هغو ټولو نارینه او ښځینه وو له تشکیله خبر و اوسو چې دلته د کاپیټل یا کانگرېس ودانۍ دننه د دغو عملیاتو لپاره گومارل شوي دي. موږ هغوی د اېف بي ای له لارې معاینه یا ارزوو، نو موږ دا پروسه مخته وړو او هر یو چې د دې عملیاتو لپاره گومارل شوي دوه– درې واره له نظره تېروو.»

هغه زیاته کړې، قوماندانان باید د خپلو عسکرو په لیکو کې له هر ډول ستونزو راپور ورکړي. په ورته مهال د ملي گارډ رییس جنرال ډانیل هوکانسون هم له سي بي اېس ټلوېزیون سره په یوه مرکه کې د دفاع وزارت د لوړپوړي ملکي مشر راین مک کارتي څرگندونې پر ځای بللې دي.

هوکانسون ویلي، چې څارنه یا د عسکرو معاینه د اېف بي ای یا د امریکا د تحقیقاتو فدرالي ادارې او سکرېټ سروېس په همغږۍ مخته ځي. تر څېړنو وروسته معلومه شوې، چې د جنورۍ د شپږمې یو شمېر بلواگر یا اوس یا پخوا له پوځ سره تړلي دي.


امریکایي چارواکو وروسته له هغې په پلازمېنه واشنگټن او ځینو نورو ایالتونو کې امنیتي تدابیر زیات کړي، چې د جنورۍ په شپږمه د اوسني ولسمشر ډونالډ ټرمپ په پلوۍ لاریونونه په تاوتریخوالي واوښتل. قهرجنو لاریونوالو د کانگرېس پر ودانۍ برید وکړ او له پولیسو سره په نښته کې د پنځو کسانو د وژل کېدو او د گڼو نورو د ژوبلېدو راپورونه ورکړل شول.

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسی پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ


### څلورمه برخه
### کابوکي




دورانی: زموږ لوی درستیز لوده گي کړې وه، د ټلیفون پر عادي کرښه یې خبرې کولې. هندیانو خپله دنده ترسره کوله.
دولت: دغه مکالمې چې مو خپل رئیس ته وسپارلې، هغه ورته حیران شو. نېغې یې لومړي وزیر ته یووړې. دواړو پرېکړه وکړه چې باید دا مکالمې رسنیزې کړي.ټولې نړۍ په تېره بیا امریکایانو ته باید پته لگېدلې وای، چې له موږ سره یې ثبت شوې مکالمې وې. ما رئیس ته وویل؛ ښاغیله ولې یې رسنیزې کوی؟ که رسنیزې یې کړو، نو هغه چینل به بند شي چې اوس ورته موږ غوږ یو.
دورانی: دا خبره سمه ده، له استخباراتو سره دغسې غم وي. موږ ښایي ویلی وای چې ښه، خبرې مو یې واورېدې، که رسنیزې یې کړو نو څه به لاس ته راشي؟ که نه خبره پټه وساتو او وگورو چې نور څه وایي؟ نه پوهېږم کوم چینلونه، ما خو ویل چې گنې دا یوازې د عادي ټلیفون کومه کرښه وه؟
دولت: یوازې د عادي ټلیفون یوه کرښه وه. اصلي خبره دا ده چې مشرف او عزیز له یو بل سره پر ټلیفون غږېدل او موږ یې خبرې واورېدې. دا چینل مو بیا بیا کارولی شو.
دورانی: که کومه ځانگړې کرښه وای، بیا یې نو رسنیز کول لوی حماقت و. موږ ته د یوه بل د ټلیفوني اړیکو د ثبتولو وړتیاوې معلومې دي، په تېره بیا که کرښه لږه خوندي غوندې وي. که پیوره غوا وي، نو مه یې افشا کوه.
دولت: د رئیس صېب مطلب دا دی چې موږ ستاسې ډېرې خبرې اورو، خو نه یې رسنیزې کوو.
دورانی: هو باید رسنیزې نه شي، ځکه خو که څه هم نن سبا ویل کېږي چې ټلیفون، لیکلي پیغامونه، ایمیل او سکایپ خوندي دي، د وټس اپ اړوند هم دغسې ویل کېږي؛ خو بیا هم د محرمو معلوماتو لپاره نه کارېږي.
سېنها: مشرف نه ویل چې میا صېب یې مخه نه نیسي.
دولت: مشرف په بیجېنگ کې و. عزیز ته یې ټلیفون کړی او په پاکستان کې د حالاتو جاج یې ترې اخیست. عزیز ورته ویل: « ہاں، ہاں بلکل ٹھیک ہیں » (هو، هو ښېځې سمه ده.) جالبه خو دا وه چې مشرف ورته وویل، خدای دې وکړي چې دا سیاستوال تلولي شوي نه وي. مهمه خبره همدغه وه.
دورانی: لکه مخکې مې چې وویل، «G.Parthasarathy» ما ته د دې مکالمې لیکلې ښه او کاپیانې را واستولې. باید درته ووایم چې هغه په سړه سینه دا خبره وکړه. خو د عملیاتو پر سموالي یا نا سم والي یې اغېز نه درلود.
سېنها: د مشرف تر تاثیر لاندې نه ښکارې؟
دورانی: له مشرف سره شخصاً ستونزه نه لرم. د دندې پر مهال یې زما احترام کاوه. هغه تر ما څلور کاله وروسته په هغه برخه کې چې ما کار کاوه، مشر گومارل شوی، دغه مهال زه «کېپټن» وم. دی چې واک ته ورسېد، ما ته یې یو ښه وړاندیز وکړ، په سعودي کې د سفارت. ما ته چې د ده سیاستونه ویجاړوونکي ښکاره شول، نو مې پر عام محضر کې د هغو نقدولو ته ملا وتړله. په پاکستان کې جگړه مار، توندلاري، سخت دریځي او هلته د جگړه مارۍ اوسنۍ څپه له هغه ځایه را پیلېږي چې مشرف په ۲۰۰۴ کال کې جنوبي وزیرستان ته پوځ ولېږه. خو چې له حق خبرې تېر نه شم، نو د ده پر نقدولو ما ته چا هم گواښ نه دی کړی.
سېنها: ښاغلي دولت په خپل کتاب کې لیکلي دي چې مشرف له هند سره د سولې معاملې ته رسېدلی شو.
دورانی: ښایي ده پر دې مسئلې ډېر فکر کړی وي، دی په بله خوا کې ولاړ و، ډېر عیني. مشرف د اړیکو ښه کېدل غوښتل، خو کړنلاره یې نیمگړې وه. په هند یا ډیلي د پروپوزلونو باران پکار نه دی. د اونۍ په سر کې یو وړاندیز کوي او په پای کې یې بل. اسلام‌اباد د وړاندیزونو طوفان جوړ کړی و. که زه په ډیلي کې وای، نو ویل به مې چې غبرگون ښوولو ته اړتیا نشته. ویل به مې چې لږ صبر وکړئ، یو بل وړاندیز به وکړي، ښایي داسې وړاندیز وکړي چې هند ته ډېر ښه وي.
یا دا چې رالېږل شوي څه خو به توطیه نه وي؟ دوی خو به ډېره گټه نه کوي او موږ خو به نه تېر باسې؟ ځکه نو ده ته وخت ورکوی.
کړنلاره باید بدله وي. دا خبرې باید په رسنیو کې و نه شي. ځکه که هند ته دغه طرحه ښه هم ښکاره شي، نو له دې امله به یې هم نه مني چې دا به د پاکستان «لویه لاسته راوړنه» وي.
دولت: ښاغلیه! زه ستاسو خبره تاییدوم، هند ځکه غبرگون و نه ښود. موږ د ۲۰۰۶-۲۰۰۷ فرصت له لاسه ورکړ. خورشید محمود قصوري د « Sati Lambah» په نوم کتاب لیکلی دی. په دغه کتاب کې هم ویل شوي چې موږ تقریباً معاملې ته سره رسېدلي وو. ما تقریباً ډېرو کارونو ته لاس اچولی و.
**دوام لري...**

# ایمره کرتیز

شفیق امیرزی



ایمره کرتیز د ۲۰۰۲ کال د نوبل جایزې گټونکی دی. نوموړي سخت ژوند تېر کړی دی، د مرگ له خولې تښتېدلی دی او د نوبل تر جایزې یې ځان رسولی دی. ایمره کرتیز په یوه متوسطه کورنۍ کې وزیږېد، مور او پلار یې یهودي مذهبه وو، خو دی د پنځو کلونو و چې مور او پلار یې له یو بل سره بېل شول او د یهودیانو لپاره په ځانگړې شوي ښوونځي کې شامل کړل شو. دی د خپل ژوند د تنکۍ ځوانۍ او عسکرۍ د خدمت ترخې تجربې له ځان سره لري او همدا تجربې یې لیکوالۍ ته راوړې دي او تر خلکو یې رسولې دي.
کرتیز د ۱۹۲۹ کال د نومبر په ۹مه د افریقا په بودا پیست کې وزیږېد. کورنۍ یې له اقتصادي لحاظه یوه متوسطه کورنۍ وه، دی د پنځو کلونو و چې مور او پلار یې سره بېل شول، کرتیز د یهودیانو په یوه ځانگړې شبانه ښوونځي کې شامل کړل شو. په ۱۹۴۰ کال کې په متوسطه ښوونځي کې شامل شو او دلته یې هم په یوه ځانگړې ټولگي چې د یهودي ماشومانو لپاره ځانگړې شوی و، زده کړو ته ادامه ورکړه. په دویمه نړیواله جگړه کې چې کله نازیان په زور کې دي، نو دی هم د نازیانو لاس ته لوېږي او د اجباري کار لپاره د دغه گوند یوې قرارگاه ته لېږل کېږي. په دې ځای کې ډېرى کسان په قصدي توگه د کار د فشار له امله وژل کېدل، خو کرتیز په دې بریالی شو چې له دغه قرارگاه ځان وباسي او له مرگ وژغورل شي. دی هغه مهال څوارلس کلن و. له دې ځایه چې لاړ بېرته بودا پیست ته ستون شو او په دغه ښار کې یې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړه، تر دې چې د ژورنالېزم او خبریالۍ په برخه کې یې کار پیل کړ. په ۱۹۸۴ کال کې چې کله له ښوونځي فارغ شو، نو په وضاحت نومې مجله کې یې کار پیل کړ. وروسته له دې چې له کمونیزم سره یې علاقه ډېره شوه، نو له دې دندې گوښه کړل شو. د لنډې مودې لپاره یې په یوه فابریکه کې د عادي کارگر په توگه کار کاوه، وروسته د صنعت وزارت د مطبوعاتو څانگې ته لاړ. په ۱۹۵۳ کال کې یې په خپلواکه خبریالۍ پیل وکړ، ژباړې یې پیل کړې، د نیچه، فروید، لودویگ او ونگتنشتاین ځینې اثار یې وژباړل.
ایمره کرتیز د هنگري هېواد مشهور لیکوال دی، خو په المان کې یې هم ژوند کړی دی. مخکې مو هم یادونه وکړه چې د نازیانو د یهودي ضد شکنجو او انسان سوزوونکو کورو له اوره وتښتېد، زده کړې یې وکړې، لیکل یې وکړل، خبریالي یې وکړه او دومره مشهور شو چې د نوبل تر جایزې یې ځان ورساوه. دی چې کله د نازیانو له منگولو تښتي، بودا پیست ته راځي، زده کړې کوي، خبریالي پیلوي، خو کمونیستي افکار وربانديې زورور شي او دا د دې سبب شي چې له کاره و ایستل شي. د دې تر څنگ چې د کار په لټه کې دی، خو دوه کاله د عسکرۍ خدمت ته هم استول کېږي.
لیکوالي او خبریالي له همدې وروسته پیلېږي او په خپلو اکثریت اثارو کې د نوې ځوانۍ او عسکرۍ خاطرې ځایوي. بلخوا موږ یادونه وکړه چې هغه د ځینو مشهورو اروپایي لیکوالانو اثار وژباړل چې دې ژباړې یې هم پر سبک او ادبي ژوند خپل اغېز درلود. لومړنی ناول یې چې په ۱۹۷۵ کال کې چاپ کړ، (Fateless) نومېږي. دا په دې مانا نه ده چې هغه به اوتوبایوگرافي لیکلې وي یا به یې یوازې د خپل ژوند خاطرې لیکلې وي، بلکې دا هر څه یې په داستان کې ځای پر ځای کړي دي. لیکوالي یې همدا راز د کمونیزم د څلورو لسیزو حکمرانۍ تر اغېز لاندې هم ده. په تېره هغه مهال چې پخواني شوروي اتحاد په ۱۹۵٦ کال کې پر هنگري برید وکړ، د ده لیکنې سختې د کمونیزم تر اغېز لاندې وي. ان په ډېرو مواردو کې یې خپلې لیکنې او خپل سبک سانسور کړی دی؛ خو دی دا خبرې ردوي. هغه وایي چې دی تر ډېره خپل ځان او انسانیت ته ژمن دی. وایي د خبرو او لیکلو لومړنی تمرکز یې پر انسان، انساني خاطراتو او انسانیت دی. په یوه بل ځای کې بیا وایي، د خپل یهودیوالي په اړه په شک کې دی. پوره پر دې مذهب عقیده نه لري. دی وایي، د یهودي په نامه د مرگ قرارگاه ته لېږل شوی دی. د یهودي په توگه یې په داسې یوه ټولنه کې ژوند کړی چې ټولو له یهودیانو کرکه کوله، خو وایي دی له زړه یهودی نه دی؛ بلکې یهودیت وربانديې تحمیل شوی مذهب دی.
هغه خپلې لیکوالۍ ته له سیاسي او ټولنیزو افکارو سره ادامه ورکوله. لومړنی ناول یې چې ولیکه، نو خپرندویې ټولنې یې له خپرولو ډډه وکړه او ده ته یې ځواب ورکړ، خو وروسته وروسته مشهور شو او ډېر ناولونه یې چاپ شول. ایمره کرتیز د ۱۹۸۹ کال له سیاسي تحولاتو وروسته څه ناڅه ولسي څېره شوه. د مقالو خپرول یې پیل کړ، خبریالي یې کوله او لیکوالي یې هم کوله. هغه په ۱۹۹۵ کال کې برنډېنبرگر لیټریچر (Brandenburger literature pries) جایزه وگټله. په ۲۰۰۰ ز کال کې یې بیا د (the welt-literature pries) جایزه هم گټلې ده.
دی د هنگري هېواد لومړنی لیکوال دی چې د نوبل جایزه گټي. همدا چې دا جایزه یې په نامه شوه، نو د هنگري د لومړي وزیر او ولسمشر پیغامونه تر ده ور ورسېدل. دا په هنگري کې یو ستر ادبي تحول و. لومړنی کس و چې له هنگري ادبي جایزه گټي. کرتیز هغه مهال رسنیو ته وویل: «زما مورنۍ ژبه یو څه محلي ده، خو د نوبل جایزې ورکړه د هنگري د ادبیاتو لپاره بیخي نوې او مهمه خبره ده.» ده په حیرانه، خو خوشاله څېره خپلو خبرو ته ادامه ورکړه او ویې ویل: «ښایي د ختیځې اروپا د هېوادونو لپاره دا یو نوی پیل وي. یا هم ښایي د دوی لپاره یوه هڅونه وي چې یو څه زده کړي.»
کرتیز چې جایزې گټونکی شو، پوره ۷۲ کاله عمر یې درلود. د ۲۰۰۲ کال د نوبل جایزې نړۍ هم حیرانه کړه؛ خو د نوبل بنسټ وویل چې د کرتیز اثار د استبداد پر وړاندې له مبارزې او دردناکو کیسو ډک دي. هغه غمجنې تجربې راټولې کړې دي. نوبل بنسټ د هغه مهال تاریخي پېښې وحشیانه بللې دي او په وینا یې د کرتیز ادبیات د دې وحشیانه کړنو پر وړاندې د مبارزې بیرغ له ځان سره وړي.
د نوبل بنسټ وایي، کرتیز د ټولنې پر وړاندې د فردیت مبارزه رابرسېره کوي. یو کس چې فردي فکر لري او فردیت پالي څه ډول د ټولنې له لوري ځپل کېږي او دی یې پر وړاندې ولاړ وي. کرتیز یو استثنایي کس نه دی، بلکې په اروپایي چاپېریال کې د یوه بېگانه کس په څېر مبارزه کوي. هر څه ورته بېگانه دي او خلک یې نظریاتو ته درناوی نه کوي. هغه په اوسني عصر کې د انسانانو د وېرې، وحشت، پستۍ، بې فکرۍ او ظلم په اړه تر ټولو واضح انځور دی. په اثارو کې یې دا انځور کړې چې یو انسان څومره ظالم کېدلی شي، څومره وحشي کېدلی شي، څومره وېره لري، څومره درد زغملی شي او د څومره ناخوالو پر وړاندې باید مبارزه وکړي.
ده چې کله د نوبل جایزه وگټله، ویې ویل چې دا یو ستر ویاړ ور په برخه شوی او په دې مانا ده چې نور به ارامه ژوند وکړي. لږ تر لږه مالي وضعیت به مې سم شي او پرېکړه مې کړې چې خپلو تر ټولو نږدې ملگرو ته یوه ښه مېلمستیا ورکړم. هغه ولې دا خبره وکړه؟ د دې خبرې اصلي هدف څه و؟ ځکه یې دا خبره وکړه چې له درد ډک ژوند یې تېر کړی و. هېڅ وخت یې مالي وضعیت ښه نه و. له مالي ستونزو ځورېده او ان په دې ارمان و چې خپلو نږدې ملگرو ته یوه مېلمستیا ورکړي. خو دلته یې بخت واوښت، اثار یې د نوبل گټلو وړ وبلل شول او شتمن شو.
بې سرنوشته یې لومړنی ناول و. په دې کې د یوه پنځلس کلن یهودي زلمکي کیسه راغلې ده، چې د نازیانو قرارگاه ته وړل کېږي. هغه ورځ په ورځ په دې ځای کې د وېرې احساس کوي او ځان مرگ ته نږدې بولي. کورتیز په پوره مهارت د یوه زلمکي په روح او وجود کې د مرگ د وېرې انځور وړاندې کوي. دلته روان ظلمونه انځوروي او ځوان ته د مبارزې روحیه ورکوي. زلمکی هڅه کوي چې ځان ژوندی وساتي، ځان له مرگه وژغوري، د دې لپاره نه چې ښه ژوند ولري، یوازې د دې لپاره چې خپل مخکیني ژوند ته ور وگرځي. لیکوال په دې کتاب کې په پوره مهارت خپل پیغام لېږدوي. دا پیغام چې ژوند سخت دی، د مبارزې لارې چارې باید زده کړو، د ژوندي پاتې کېدو لپاره باید د ظالم په منگولو کې مبارزه وکړو، باید هیلې ونه بایلو او د مبارزې روحیه مو مړه نه شي. بې سرنوشته د داسې یوه زلمي کیسه ده چې د راتلونکې په اړه یې وړاندوینه نه شي کولی، سر تر سره له خطرونو او جنجالونو سره مخ دی، خو دی باید د هرې وېرې او هر ظلم پر وړاندې مبارزه وکړي.
د بې سرنوشته انسان داستان هغه مهال یو عادي داستان نه و. د اروپایي ادبیاتو د لېست سر ته راغی. په ټوله اروپا کې مشهور شو، خو وروسته له هغه چې انگلیسي ته وژباړل شو، مینه‌وال یې څو برابره شول. کرتیز له دې ناول سره په انگلیسي ژبو هېوادونو کې هم مشهور شو. له انگلیسي ژبې بیا دغه ناول ډېرو نورو ژبو ته هم وژباړل شو. دا کتاب کلونه مخکې چاپ شو و، خو ایمره ته یې هېڅ شهرت نه و وربښلی، کله چې په انگلیسي وژباړل شو، نو دا مهال یې له لومړي چاپ شل کاله تېر شوي وو. همدې مسئلې د ایمره کرتیز نوم بیا را ژوندی کړی او د لوستونکو خولې ته ولوېد. همدې پېښې دی لا ډېر وهڅاوه چې لیکل وکړي او لیکوالۍ ته ادامه ورکړي. دی د شلمې پېړۍ د لیکوالانو تر منځ هغه لیکوال دی چې په روایي ښه لیکل کوي، خو د دې تر څنگ نه غواړي چې شاعرانه تخلیق ته په خپلو اثارو کې نظم ور وبښي. دی د روایت په اهمیت پوهېږي. دی په دې ښه پوهېږي چې روایتونه حقیقي ژوند ته څومره نږدې دي او څومره پر حقایقو ولاړ دي. دی وایي چې په روایي سبک کې خپلې تجربې په ښه توگه لېږدولی شي، ځکه دا سبک رښتیني ژوند ته نږدې دی او خلک رښتینی ژوند او رښتینې تجربې خوښوي.
هغه نه غواړي چې په خیالي خبرو، خیالي انځورونو او فلسفي موضوعاتو ځان عالم وښیي، بلکې حقیقي تجربې رالېږدوي.
ایمره کرتیز سره له دې چې په سختو شرایطو کې لیکوالي کړې ده، د انساني ژوند او هغه مهال په اروپا کې د روان وضعیت بشپړ انځور یې وړاندې کړی دی، خو بیا هم له اروپا بهر دومره مشهور نه دی. ښایي لامل یې دا وي چې هغه د هنگري په رسمي ژبه لیکل کوي او اثار یې ډېر کم انگلیسي ته ژباړل شوي دي. هغه چې کله د نوبل جایزه وگټله، نو خلکو ته حیرانتیا هم همدې راپیدا کړه چې د هنگري یو ناپېژندل شوی لیکوال ولې د نوبل جایزه گټي. خو د نوبل بنسټ بیا هم له خپلې پرېکړې دفاع وکړه او په خبره یې هغه د انساني ژوند سوچه تجربې لیکلې دي. له درده ډکه لیکوالي یې کړې ده او د ټولنې پر وړاندې یې د فردیت پالنه کړې ده. هغه په اروپا کې د بېگانه په څېر اوسېدلی دی، ځکه د اروپا ناوړه کړنې یې غندلې دي او چا غېږ نه ده ورته پرانیستې.
ایمره کرتیز له ډېرو ادبي پنځونو او لیکلو وروسته په ۲۰۱٦ کال کې د ۸٦ کلونو په عمر ومړ. پر ډېرو ناولونو یې فلمونه جوړ شوي دي، اثار یې لا هم په اروپا کې لوستونکي لري، په اروپا کې د شلمې پېړۍ له اغېزناکو لیکوالانو گڼل کېږي، چې نه یوازې اثار؛ بلکې افکار یې هم د اروپایانو لپاره د درناوي وړ دي.

همیانی

# د خپلو نعمتونو په محدوده کې ژوند

ژباړه: امان الله حنیفي

زه چې هره کله یو چا ته د لار ښوودنې، نوي ځیز موندلو او یا هم د یوې نوې اړیکې د جوړولو په حال کې وم، هغه وخت کاملاً د پوره انرژۍ درلودو حس کوم. زه د همدې لپاره پیدا شوی یم څو دا کارونه تر سره کړم او هر وخت له ځانه پوښتم: «له دې پرته نور کوم کارونه دي چې ما ته ښه حس راکولای شي؟» ځینې هغه یې دا دي:

**۱- پر خپلو ملگرو او کورنۍ پانگه کول**

له نورو سره د مرستې کولو، د هغوی د وړتیاوو لوړولو او هغوی ته د ارزښت ورکولو په نسبت په ټوله نړۍ کار ما ته بل کار ډېر خوښ نه دی او نه داسې د خوښۍ حس راکولای شي. زما دا ډېره خوښېږي چې د خپل ژوند هغه ښې خاطرې له هغو کسانو سره شریکې کړم، چې زه ورسره مینه لرم. کومې اړیکې پالل کولای شي تاسې ته ښه احساس درکړي؟

**۲- د نورو د ارزښتونو پیاوړي کول**

زه له خلکو سره زیاته مینه لرم او هره ورځ د هغوی د ارزښتونو د پیاوړي کولو په لارو چارو پسې گرځم. له نورو سره مرسته کول تر هرڅه زیات د خوښۍ حس راکوي. د کومو هغو کارونو تر سره کول تاسې ته خوښي درکوي او انرژي مو زیاتوي؟

**۳- د خپل ځان فزیکي مراقبت**

ښه ده چې ووایم زه یوازې په فزیکي ډول د ځان د پیاوړي کولو غوښتونکی نه یم او نه مې دا خوښېږي. ډېر کلونه مې ورزش کړی او ښه غذایي رژیم مې مراعات کړی. په هر صورت، په دې وروستیو کلونو کې پوه شوم چې په فزیکي ډول د ځان مراقبت، ځان غوښتنه یا د وخت ضایع کول نه دي. زه د خدای له راکړل شوو وړتیاوو څخه د استفادې لپاره پیدا شوی یم، څو د هغه په مټ مثبت فکر او کار را منځ ته کړم او هغه کس چې په فزیکي لحاظ روغ نه وي، نه شي کولای چې دا کارونه تر سره کړي. تاسې د خپلې روغتیا د خوندي ساتلو او په فزیکي ډول د کارونو د ښه تر سره کولو لپاره کوم کارونه کولای شی؟

**۴- د خلکو لا پیاوړي کول**

یو ځل مې ملگرې راته وویل: پرمختگ؛ خوښي رامنځ ته کوونکی دی.» زه له هغه سره موافق یم. زه ډېر وخت له خلکو سره د هغوی د محدودیتونو په له منځه وړلو، د نوي کار په پیل او د هغوی د وړتیاوو په لا پیاوړي کولو کې کار کوم او همدا کار راته تر ټولو ډېره خوښي راکوي.

**۵- پر دې پوهېدل چې خدای پاک پر هرڅه خبر دی**

همداسې چې دا خبرې لیکم، د اقیانوس په څنډو کې مې سترگې گنډلې دي او پر هغه څوکۍ ناست یم چې دغه پراخ اقیانوس ته مخامخ اېښودل شوې ده. مخامخ مې سترگو ته هغه تخته هم لگېدلې ده چې پر لیکلي دي: «خدایه! ستا د رحمت دریاب څومره پراخ او زما کښتۍ څومره وړه ده.» زه پر خپلو عقایدو کلک باور لرم او همدا اقیانوس او پر تخته لیکل شوې جملې راته د خدای پاک لویي په یاد کوي. دا نه یوازې په ما کې د عاجزۍ د رامنځ ته کېدو سبب شوې دي، بلکې دا مرسته یې هم راسره کړې ده چې هر وخت له خدای پاک سره و اوسم او پر هغه توکل وکړم. همدا لیکلې جملې دي چې زما او خدای د اړیکې د لا محکم ساتلو لامل شوې. ټول دا فکرونه ما ته مثبته انرژي راکوي. که تاسې هم باایمانه کس یاستی، له خدای ج سره د اړیکې ټینگولو او پر هغه د توکل په پرتله به بله کومه ښه لاره وي چې تاسې ته خوشالي او پوره انرژي درکړي؟ دا هغه کارونه وو چې ما ته د پوره انرژۍ احساس راکوي. تاسې څنگه؟ که نه پوهېږی، په دې اړه فکر کولو ته وخت ورکړئ.

**هغه څه دي چې ما له پښو غورځوي؟**

له موږ ډېری پر دې باور رالوی شوي چې ډېره هڅه او تلاش کولای شي زموږ لپاره هر کار تر سره کړي؛ خو دا سمه نه ده! که څه هم موږ پر دې باور لرو چې زموږ بالقوه وړتیاوې نامحدوده دي، خو له دې سره سره پر دې هم باور لرو چې په هغو برخو کې چې موږ یې استعداد نه لرو، نه شو کولای چې په ښه بڼه راڅرگند شو. د بېلگې په ډول، زه په هېڅ صورت نه شم کولای چې یو ښه موسیقي غږوونکی شم. نو ولې خپل وخت د هغه څه په لټه کې تېروی، چې نه شی کولای په هغه کې په ښه بڼه راڅرگند شی؟ د هغه پر ځای هڅه وکړئ چې هغه څه زده کړی چې ذاتاً ستاسې له طبیعت او مزاج سره اړخ لگوي. څنگه، نه باید خپلې طبیعي وړتیاوې وپېژنی چې د هغه په مرسته هم ځان او هم نورو ته گټه رسولای شی؟ دا داسې ده لکه کټ مټ په سیند کې د اوبو د جریان خلاف لوري ته حرکت کول، چې ډېر ژر مو له لاس او پښو غورځوي.

دویم مورد چې ډېر ژر موږ له لاس او پښو غورځوي، هغه له بدلون سره زموږ د مخ کېدو شیوه ده. دن میل من وایي: «د بدلون راز دا دی چې ټوله انرژي مو د یوې نوي ځیز موندلو یا پېژندلو ته ځانگړې کړی، نه د پیخوانې هغه پېژندلو ته.» ډېری خلک چې که څه هم پر همدې سپارښتنه عمل کوي، بیا هم بدلون د انرژۍ د تحلیل لامل بولي؛ ځکه د بدلون رامنځ ته کول؛ له انسان ډېره فزیکي، احساسي او عقلاني انرژي غواړي. کوم ځیزونه ستاسې انرژي تحلیلوي؟ په دې اړه پوهېږی؟ ایا له هغه ځان ساتی؟

**څنگه کولای شم هغو ځیزونو ته لاسرسی ولرم چې انرژي مې پیاوړې کوي؟**

ما ته ریښتیا دا پته له پوهنتون تر فراغت وروسته ولگېده. ما هغه جون میاشت له مارگارت سره واده وکړ او له هغه ښار چې پلار مې پکې اوسېده، بل هغه ته چې له دې ښار یې ۳۷۵ کیلومتره واټن درلود، لرې مهاجر شوم. له مارگارت سره د نوي ژوند له پیل زه خوښ وم؛ خو دوې اونۍ وروسته پوه شوم چې مور او پلار به ما ته څومره انرژي راکوله. کله به چې د پلار په خوا کې وم، هر وخت به مې مثبت احساس او پر ځان پوره پوره باور کاوه. مور به مې ټولو خبرو ته ښه په ارامۍ غوږ نیوه او دې هرڅه به ما ته ښه احساس راکاوه. هغه وخت موبایلونه هرچا ته نه وو رسېدلي او له پیسیو زنگ وهل ډېر گران وو. موږ د پیسیو له لارې له مور او پلار سره د اړیکې ټینگولو لپاره کافي پیسې هم نه درلودې. په هر صورت، موږ دا وخت له مور او پلار سره ډېره اړیکه نه درلوده او هماغه وو چې بیخي ډېره انرژي مو له لاسه هم ورکړې وه. تام راس وایي: «ستاسې ښه احساس مستقیماً د هغو کسانو له چارچلند اغېزمن دی، چې ستاسې په شاوخوا کې دي، یا تاسې ورسره په یوه کور کې ژوند کوی او یا هم ستاسې په څو کیلومترۍ کې ژوند کوي. خو د دې خلاف بیا له لرې واټن څخه د اړیکې پالل چندانې تاثیر نه لري.» یوازې انسانان نه دي چې ستاسې په ژوند کې د انرژۍ د رامنځ او له منځه وړو لامل کېږي، تقریباً هر هغه څه چې تاسې یې له لیدو خوند اخلی، تاسې ته انرژي درکوي. ما ډېر کلونه مخکې ټول هغه څه چې له لیدو مې یې خوند اخیست، په خپل کارځای کې راټول کړي دي، څو یې له هرځل لیدو خوند واخلم او په دې سره خپله انرژي پوره وساتم. د بېلگې په ډول، کله چې چېرې د وینا پلان لرم، هغه وخت د موبایل غوږۍ را اخلم او تر ډېره هغه جملې او غږیز کلیپونه اورم، چې الهام ورکوونکي اوسي. کله چې لیکل کوم، له هغه مخکې هغه کتابونه لولم چې په الماری کې مې اېښې او تر ډېره یې زما ژوند بدل کړی دی.

یوه ښه او خوښ ژوند ته د رسېدو لپاره دا ټکي په نظر کې نیول ډېر مهم دي.

## وکیلان: که د ۱۴۰۰ مالي کال د بودجې سند اصلاح نه شي، بیا به یې هم ردوو

ولسي جرگه خبرداری ورکوي چې که د ۱۴۰۰ مالي کال د بودجې سند اصلاح نه‌شي، بیا به یې هم رد کړي.

که څه هم د نوي مالي کال له پیل څخه نږدې یوه میاشت تېرېږي، خو لا هم حکومت او ولسي جرگه د ۱۴۰۰ مالي کال بودجې د تصویب په اړه یوې هوکړې ته نه دي رسېدلي.

د حکومت او ولسي جرگې ترمنځ د نوي مالي کال په بودجې کې ۱۷ اختلافي موارد شته، چې له امله یې دا بودجه دوه ځلې د خلکو استازو رد کړې ده.

د ولسي جرگې رییس میر رحمان رحماني د تېرې ورځې په عمومي غونډه کې وویل، ولسمشر دې د جرگې واکونو ته په کتو د بودجې په ترتیب کې د برابرۍ اصل ته پام وکړي.

نوموړي وویل: «د معاشانو یو ډول والی عدالت دی چې د جمهوریت اصل ښیي. د معاشانو لوړېدل د خلکو مشروع حق دی. ناخبره خلک باید له بې‌ځایه قضاوت ډډه وکړي. حکومت دې د ملي شورا واکونو ته احترام وکړي.»

د ۱۴۰۰یم مالي کال ټوله بودجه ۴۷۳ میلیارده افغانۍ ده، چې ۳۱۱ میلیارد یې عادي او ۱٦۱ میلیارد افغانۍ یې پراختیایي برخې ته ځانگړې شوې ده، خو ولسي جرگې دا ځل هم دا سند له دې کبله رد کړ، چې گڼې د ملکي کارکوونکو معاشونه پکې نه دي زیات شوي او د پراختیایي پروژو لپاره پکې توازن په پام کې نه دی نیول شوی.

ولسي جرگه دغه راز ټینگار کوي، چې باید هغه اداري له منځه لاړې شي، چې د دې جرگې له تصویب پرته جوړې شوې دي.

د ولسي جرگې غړی عرفان‌الله عرفان وایي: «زه یې روښانه وایم، تر هغه چې د پروژو توازن ته پام ونه شي او هغه څه چې زما موکلین یې له ما غواړي، ورته پام و نه شي، بیا هم دې بودجې ته د تایید رایه نه ورکوم.»

د جرگې بل غړی احمد سېلاب بیا وایي، حکومت دولتي کارکوونکو ته معاش نه ورکوي او له دې ادرسه غواړي چې پر ولسي جرگې فشار راوړي، څو د نوي مالي کال بودجه تصویب کړي.

## نړیواله ټولنه: د افغان جگړې ښکېلې غاړې دې د سولې پروسې د بریالیتوب لپاره جگړه ودروي

په قطر کې د دولت او طالبانو د مرکچي پلاوو تر منځ د سولې له مذاکراتو سره هم‌مهاله د یو شمېر هېوادونو او نړیوالو بنسټونو استازو یو ځل بیا په افغانستان کې د جگړې په پای ته رسولو او اوربند ټینگار کړی دی.

د ملي مصالحې عالي شورا «له سولې څخه د ملاتړ اجماع د پیاوړتیا» په نوم په انلاین بڼه د دویمې غونډې د جوړېدو خبر ورکړ، چې د ۱۱ هېوادونو او نړیوالو بنسټونو استازو پکې گډون درلود.

یادې شورا په یو بیان کې ویلي: «گډونوالو د ملي مصالحې د عالي شورا په رهبرۍ د سولې له هڅو، د جگړې او تاوتریخوالي له پای ته رسولو، عمومي اوربند او د اوسنۍ ستونزې لپاره د سیاسي حل لارې له موندلو څخه د خپلو هېوادونو او سازمانونو په استازیتوب بشپړ ملاتړ څرگند کړ».

د غونډې گډونوالو دغه راز په افغانستان کې د هدفي وژنو په تړاو اندېښنه ښودلې او په پای ته رسولو یې ټینگار کړی دی. د ملي مصالحې د عالي شورا رییس عبدالله عبدالله په دې غونډه کې ویلي، چې د تاوتریخوالي پای ته رسول او د اوربند ټینگېدل د افغانستان د دولت د مرکچي پلاوي د بحث په لومړیتوب کې دي.

هغه زیاته کړې: «په افغانستان کې سولې ته د رسېدو لپاره سیمه‌ییزه او نړیواله اجماع حتمي ده او د دې مسئلې ارزښت ته په پاملرنې د افغانستان اسلامي جمهوریت د سیمه‌ییزې او نړیوالې همکارۍ د راجلبولو لپاره هڅې کوي».

په ورته مهال د افغان دولت د سولې مرکچي پلاوي رییس معصوم ستانکزي په دې ویډیویي غونډه کې ویلي، چې په قطر کې د اجنډا پر سر خبرې دوام لري او د روانې اونۍ په پای کې به د دواړو خواوو ترمنځ جدي بحثونه پیل شي.

بلخوا ارگ وایي چې ولسمشر غني او د استرالیا له لومړي وزیر سکاټ موریسن سره ټلیفوني خبرې کړې او دواړو خواوو د سولې د خبرو ترڅنگ په افغانستان کې د طالبانو له خوا روان تاوتریخوالی مردود گڼلی دی.

د استرالیا لومړي وزیر دغه راز ویلي، چې هېواد یې د افغانانو په مالکیت د سولې له هغې پروسې څخه چې پکې د تېرو دوو لسیزو ارزښتونه او لاسته راوړنې خوندي شي، ملاتړ کوي.

نړیوالې ټولنې په داسې حال کې یوځل بیا په افغانستان کې د جگړې د پای ته رسولو او د اوربند د ټینگېدو غوښتنه کړې، چې له څو اونیو راهیسې د افغان ځواکونو او طالبانو ترمنځ نښتو، هدفي وژنو او ماین چاودنو پېښو کې زیاتوالی راغلی دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲۰ |
| € | ۹۳,۲ |
| Rp. | ٤۷۹ |
| ₹ | ۱۰٤۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۳,٦ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦

۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د مرغومي ۳۰مه | د ۲۰۲۱ د جنوري ۱۹مه | ۶۶۶مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳ | ۱۹ | ۲۲ | ۱۲ | ۲۱ | ۱۱ |
| ۲- | ۰ | ۲ | ۱ | ۵ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۱ | لمر ختل ۰۶:۵۹ | ماسپښین ۱۲:۰۴ | مازیګر ۰۳:۳۲ | ماښام ۰۵:۱۰ | ماخوستن ۰۶:۳۸

## سفارت امریکا: مناطقی که اتباع خارجی در آنجا رفت و آمد دارند، با تهدیدهای جدی رو به رو هستند



سفارت امریکا در کابل می گوید که اخیراً حملات، رویدادهای جنایی و قتل های هدفمند در افغانستان افزایش یافته است؛ بنابر این شهروندان این کشور، باید از آمدن به افغانستان خودداری کنند.

در خبرنامه ای که از سوی سفارت امریکا در کابل، به نشر رسیده، آمده است که تعدادی هوتل ها، اقامتگاه ها، دفتر ملل متحد در کابل و سایر مناطقی که اتباع خارجی، به ویژه اتباع امریکایی در آنجا رفت و آمد دارند، با تهدیدهای بیشتری رو به رو می باشد.

بر اساس خبرنامه، سفارت امریکا در کابل به همه شهروندان امریکایی هشدار داده است که از سفر کردن به افغانستان خودداری نمایند و کسانی که در افغانستان مستقر هستند، این کشور را ترک کنند.

در خبرنامه، بر اتباع امریکایی تاکید شده است که اگر در افغانستان می مانند، فقط سفرهایی را انجام دهند که بسیار ضروری باشد.

این درحالی است که سه ماه پیش نیز سفارت امریکا در خبرنامه ای گفته بود که قتل های خبرنگاران و فعالان مدنی در کابل، و ولایت های دیگر افزایش خواهد یافت.

سفارت امریکا، در حالی این اظهارات را بیان می کند که تعداد قتل های هدفمند، حوادث جنایی و سایر جرم ها، از هر زمان دیگر در کابل به بالاترین حد خود رسیده است.

## نړۍ



د احتمالي بریدونو په تړاو اندېښنې؛

### امریکایي چارواکي: ښايي د پوځ په لیکو کې ځینې کسان د لوړې پر مراسمو بریدونه وکړي

۳

## لوېديځ: روسیه دې له هر ډول شرط پرته الکسي ناوالني له بنده خوشي کړي


د امریکا متحده ایالتونو، جرمني او ځینو لوېدیځ هېوادونو د روسیې د سیاسي مخالف الکسي ناوالني نیول غندلي او له هر ډول شرط پرته یې د نوموړي پر خوشي کېدو ټینګار کړی دی. ۴۴ کلن ناوالني چې له تېرې اګست میاشتې راهیسې په جرمني کې تر درملنې لاندې و، ورمه ورځ د مسکو هوایي ډګر ته له رسېدو سره سم پولیسو ونیو. دا خبره د هغه دوو ملګرو په ټویټونو کې کړې او ویلي یې دي چې ناوالني په خیمکي ښارګوټي کې د پولیسو یوه مرکز ته انتقال شوی دی.

په ورته مهال د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پومپیو په یوه بیان کې د ناوالني نیول کېدل غندلي او هر ډول شرط پرته یې د هغه د خوشې کېدو غوښتنه کړې ده.

پومپیو د ناوالني د نیولو په اړه د امریکا اندېښنه په ډاګه کړې او دا ګام یې د روسیې لهخوا د ناوالني او نورو هغو څېرو د غږونو غلي کول بللي، چې د روسیې منتقدین دي.

په ورته مهال د جرمني د بهرنیو چارو وزیر هایکو ماس هم د ناوالني په نیولو نیوکه کړې او د هغه د سمدستي خوشي کېدو غوښتنه یې کړې ده. د امریکا د منتخب ولسمشر جو بایډن اداري هم د ناوالني د خوشي کېدو غوښتنه کړې ده.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له دوو میلیونو او ۴۱ زرو کسانو واوښت



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۹۵میلیونه او ۵۵۸ زره او ۷۵۸ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۴۱ زره او ۳۲۶ کسان مړه شوي او له ٦۸ میلیونو ډېر ترې ببرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۴ میلیونه او ۴۸۲ زره او ۵۰ ته رسېدلي او ۴۰۷ زره او ۲۰۲ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ۵۷۲ زره او ٦۷۲ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د اته میلیونه او ۴۸۸ زره او ۹۹ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د درې میلیونه او ۵۹۱ زره او ٦٦ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او بریټانیا د درې میلیونه او ۳۹۵ زره او ۹۵۹ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

فرانسه، ترکیه، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## ژوند


## له ستنې پرته د شکرې ناروغۍ کچه معلوموونکې اله جوړه شوه



د شکرې ناروغان باید په دوامداره توګه خپله وینه معاینه کړي، چې دومره اسانه کار نه دی او حتی کور کې معاینه کول یې هم له ستنې پرته ناشوني دي. خو یوې جاپانۍ کمپنۍ دغه ستونزه اواره کړې او داسې اله یې جوړه کړې چې له ستنې پرته د ناروغ د شکرې کچه معلومولی شي.

د امریکا په لاس وېګاس کې د ټکنالوژۍ تر ټولو ستر نندارتون کې د دې الې ازمایښتي بڼه ښودل شوې. دغه اله چې لاسي ساعت ته ورته ده په لاس کې تړل کېږي او په مسلسله توګه د ناروغ د شکرې کچه څاري. دغه اله اپل واچ ته ورته ډیزاین لري، خو یو کوچنی اسپېکټرومیټر پکې موجود دی چې په وینه کې د ګلوکوز کچه معلوموي او ناروغ ته یې په اړه معلومات ورکوي. دغه کمپنۍ وایي چې دغه اله له دې سربېره د زړه ضربان او ګراف باندې هم نظر ساتي. له دې څخه وروسته په ۲۰ ثانیو کې د ننه مخپاڼه کې په وینه کې د ګلوکوز کچې په اړه معلومات ښکاره کوي.

## د خوب کموالی مو پر دغو ناروغیو اخته کولی شي



ځینې خلک د مصروف ژوند او یا ځینو عادتونو له امله د ډېر لږ خوب کولو عادت لري، خو ایا په دې پوهېږئ چې د یوې اونۍ لپاره دغه عادت خپلول انسان د زړه او فلج پر ناروغیو اخته کولی شي؟ د فنلینډ په هیلنسکي نومي پوهنتون کې تر سره شوې دې څېړنه کې ویل شوي، هغه خلک چې لږ خوب کوي، د هغوی په وینه کې د هغه مضر کلیسټرول اندازه زیاتیږي کوم چې د زړه او فلج د ناروغیو خطر زیاتولی شي. په څېړنه کې ثابته شوې چې لږ خوب کوونکو خلکو کې د بدن مختلفو برخو ته د کلیسټرول انتقالوونکی جینونو سیستم غیر فعاله کیږي. له پایلو څخه څرګندیږي هغه خلک چې د شپې ۷ یا ۸ ساعته خوب نه کوي، په هغوی کې د وینې د شریانونو ناروغي لکه د زړه حمله، فلج او د زړه د نورو ناروغیو خطر زیاتیږي. یوه اندازه کلیسټرول په وینه کې پیدا کیږي کوم چې د بدن مختلفو حجراتو او برخو لپاره ډېر زیات اړین وي. د کلیسټرول یو ډول د انسان د روغتیا لپاره ډېر اړین او دویم ډول یې مضر دی.



د زده کونکو/زده کړیالانو جاري حساب
عزیزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالۍ ګڼل کېږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړیالانو ته د وړیا ای تي ام کارت او په کلنۍ فیس کې د ماستر ډبټ کارت تخفیف سره چمتو شوی دی.
www.azizibank.af | 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank